refugee action
working with refugees to build new lives

information

# که چېرې تاسو له ځانه سره د سمدلاسه فوق العاده مرستو د کوپون (Emergency Support Token (EST)) د لاس ته راوړلو ستونځې لري

## نو لانديني دفتر ته تيليفون وکړي

## د سودکسهو (SODEXHO) د مرستو تيليفون

**01252 369 799**

### هغه معلومات چې تاسو بايد پرې پوه شي:

١. زيار وباسئ چې د سهار له خوا نه تيليفون وکړي – کيداي شي چې تيليفون ډېر څه مصروفه وي.

٢. تاسو بايد د ډيرې مودې دپاره په تيليفون باندې انتظار وباسئ تر څو چا سره خبرې وکړي. تيليفون مه کيږدي تر څو چې تاسو ته وويل شي چې د تيليفون لينونه بند دي او تاسو وروسته تيليفون وکړي.

٣. خپل نوم، د زيږيدنې نېټه، د پناه غوښتونکو سره دملې مرستو د خدمتونو د اداري د مراجعې ګڼه ( NASS Ref)، او آدرس له ځانه سره تيارولري. ددغو معلوماتو د ورکولو پوښتنه به درنه کيږي.

٤. ستاسو د سمدلاسه فوق العاده مرستو کوپون به ستاسو د تيليفون نه وروسته د ٤٨ ساعتو په شا او خوا کې دررسيږي. هيله کوو چې تاسو په خپل کور کې دهغه تر راتلو پورې انتظار وباسئ، او د خپل ، د پناه غوښتونکو سره دملې مرستو د خدمتونو د اداري د مراجعې ګڼه (NASS Ref) له ځانه سره چمتو ولري – تاسو بايد دا هغه کس ته چې کوپونونو درورې وروښيي او دهغو دلاس ته راوړلو لپاره هلته لاسليک وکړي.

٥. که چېرې د ٤٨ ساعتو په شا او خوا کې تاسو دا کوپونونه لاس ته را نه ورل نو کيداې شي چې کومه ستونځه به پېښه شوې وي. که چيرې داسې حالت راغي نو تاسو د مشورو مرکز ته د مشورې دپاره ورشئ.